


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، تولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفیظ « ملیار ـ ساپی »

د نشرنیته : 9 اګست 2020

# مرګیه !

مرګیه دومره صبر وکړه ، چې جانان ووینم
لکه دګل په شان ښایسته افغانستان ووینم

زه به ګلان ورته په لار کې په ځولی وشیندم
کاش ، چې دسولې مې په ژوند کې دا کاروان ووینم

چې په اخلاص او مینه غیږه سره ورکړي واړه
سره پخلا مرور ورونه افغانان ووینم

نور د ټوپک پر ځای تعلیم او دقلم دور وي
له علمه ډک دتمدن ښایسته جهان ووینم

حفیظ ملیار به یې د حسن شاعري وکړمه
د خوښۍ اوښکې ترمي ، ترمي په ګریوان ووینم

***

عبدالحفیظ « ملیار »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org